# کاناډا په کابل ښار کې خونړي بریدونه وغندله

د اکتوبر 29 مه 2009

د کاناډا د بهرنیو چارو وزیر جلالتماب لورنس کانون نن دغه بیانیه په کابل ښارکې د خونړي بریدونه په اړه صادره کړه.

"کاناډاپه کابل ښار کې خونړي بریدونه او په ځانګړي توګه د ملګرو ملتونو پر میلمستون برید په کلکه غندي، کوم چې په پایله کې یې د ملګرو ملتونو د کارکوونکیو په ګډون یو شمیر کسان ووژل شول او ټپیان شول."

" په داسې حال کې چې د ولسمشرۍ د ټاکنو دویم پړوا ته له دوو اونیو څخه کم وخت پاتې دی، دغه ډارن او بذدلانه اعمال به د خپل د رایې له حق د کارولو په موخه د افغانانو سره د مرستې په لاره کې د نړیوالې ټولنې د ملاتړ څخه مخنیوی ونه کړي. موږ ټول افغانان دې ته هڅو ترڅو د خپل هیواد د راتلوونکي د جوړولو لپاره رایه ورکړه او د ټاکنو په دویم پړاو کې ګډون وکړي."

"زه د ټولو کاناډایانو په استازیتوب، ددې پېښې د قربانیانو کورنیو او ملګرو ته د خواخوږۍ او همدردۍ ژور مراتب وړاندې کوم ، او د پېښې ټپیانو ته د ژرترژره روغتیا هیله کوم. "

" موږ به د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي او همدرانګه د افغانستان د خلکو سره خپل پیاوړي ملاتړ ته دوام ورکړو."

"کاناډا د افغانستان د منتخب حکومت د غوښتنې او د ملګرو ملتونود پریکړه لیک له مخې د ناټو د ماموریت په چوکاټ کې په افغانستان کې شتون لري. د کاناډا موخه د دیموکراسي د اساسي ارزښتونو، بشري حقونو او د قانون د تینګښت پر بنسټ د یوبا ثباته او ډاډمن هیواد په جوړولوکې د افغانانو سره مرسته ده."